**څېړندوی فریدالله فرحان**

د افغانستان د علومو اکاډمی، بشري علومو معاونیت، ژبو او ادبیاتو مرکز، ورو‌ڼو قومونو ژبو او ادبیاتو انستیتوت علمي غړی

# د پشه ژبې د دوو (دره نور او اوزبین)لهجو ترمنځ فونیمیکي پرتلنه

# Phonemic Comparison Between Two Dialects of the Pashai Language (Dara-i-Noor and Uzbin)

Assitant prof. Faridullah Farhan

**Abstract**

This article examines the phonemic differences between two dialects of the Pashai language: Dara-i-Noor and Uzbin. To provide a clear understanding and thorough exploration of the topic, the paper begins with a discussion on the general dialects of the Pashai language. It then highlights the phonemic variations between the two dialects (Dara-i-Noor and Uzbin) that are essential for readers and researchers to understand.

For instance, the sound (λ) in the Dara-i-Noor dialect corresponds to (š) in the Uzbin dialect. Similarly, the vowel (ā) in the Uzbin dialect changes to (O), while (ū) transforms into (i). Additionally, the semi-vowel (y) shifts to (ž), and in some words, (š) changes to (č). Other such differences that distinguish one dialect from the other have also been analyzed.

**لنډیز**

په دې مقاله کې د پشه یي ژبې د دوو (دره نور او اوزبین) لهجو ترمنځ فونیمیکي توپیرونه څېړل شوي دي، چې د موضوع ښې روښانتیا او سپړنې لپاره په پیل کې د پشه‌یي ژبې پر عمومي لهجو بحث او د سیمو پېژندنه راغلې او وروسته بیا د پشه یي ژبې د دوو (دره نور، اوزبین) لهجو او ترمنځ فونیمیکي توپیرونه روښانه شوي دي. لکه: د دره نور لهجې (ڵ=λ) غږ د اوزبین په لهجه کې په (ش=š) غږ باندې اوړي او همدارنګه واول (ا=ā) د اوزبین په لهجه کې (ۆ=O) ، واول(و=ū) په واول(ي=i)، سیمي واول(ی=y) په(ژ=ž) او ځینو کلمو کې (ش=š) په

(چ=č) باندې اوښتل او دې ته ورته نور توپیرونه څېړل شوي دي.  ددې څېړنې ازښت په دې کې دی چې تر اوسه پورې د پشه‌یي ژبې د لهجو ترمنځ کومه لهجوي پرتلنه نه دی شوی خو په دې د پشه‌یي ژبې د دوو لهجو(دره نور، او اوزبین) ترمینځ توپیرونه روښانه شویدي. اوس په اسانۍ سره د داړو لهجو ترمنځ تفکیک کولای شئ.

**کلیدي کلمې:** دره نور، اوزبین، لهجه، فونیمیک او توپیرونه

**سریزه**

پشه‌یي د یو قوم او ژبې نوم دی، په تاریخي آثارو کې دالینا، الینایان، داردي، دپاشاچې یا پشاچه، پاشیایي، پشایي او پشه‌یي په نومونو یاد شوي دي. پشه‌یي ژبه د اریک ژبو په کورنۍ کې د داردیک(داردي) ژبو په مرکزي څانگې پورې اړه لري. ننگرهار، کونړ، لغمان، کاپیسا، نورستان،د کابل په پغمان او سروبي په اوزبین کې ویونکي لري. که څه هم پشه‌یي ژبه د پښتو ژبې په څېر ډېرې لهجې لري، خو په لوی سر کې، دا ټولې لهجې په پنځو برخو وېشل شوي دي چې د کوهستان او بولغین لهجه، د اوزبین لهجه، تگاب او نجراب لهجه، دره نور لهجه او دېگانو لهجه د یادونې وړ دي. په دې څېړنه کې ذکر شویو  لهجو له منځه د دوو لهجو(دره نور لهجه او د اوزبین لهجه) فونیمیکي بدلونونو پرتلنه شوې ده. د څېړنې ارزښت او موخه یې همدا ده چې ددغو دواړو لهجو ترمنځ فونیمیکي توپیرونه په گوته او روښانه شوي دي چې اوس لوستونکي په اسانۍ سره د کولای شي د پشه‌یي ژبې د دواړو لهجو تفکیک وکړي. او د ذکر شوو لهجو ترمنځ لهجوي توپیرونو سپړنه د دې څېړنې  اصلي چوکاټ تشکیلوي.

**د څېړنې ستونزې**

د څېړنې هغه ستونزې چې په دې څېړنه کې زه وسره مخامخ وم، په پشه ژبه کې د څېړنیزو اثارو نشتون دی، دا په دې مانا چې په پشه‌یي ژبه کې ډېر کم اثار لیکل شوي چې اکثرً فولکوریک اثار دي چې دا هم د نشت برابر دي او کومو اثارو کې د پشه‌یي ژبې لهجو بحث راغلی، په هغو کې یوازې لهجې او سیمې په لنډو دول پېژندل شوي دي خو لهجو ترمنځ د توپیرونو په اړه کوم څه نه دې لیکل شوي، نو اړتیا وه چې د پشه‌یي ژبې د دوو لهجو (دره نور او اوزبین) ترمنځ توپیرونه روښانه شي.

**د څېړنې ارزښت**

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د پشه‌یي ژبې دوې لهجې(دره نور، اورزبین) ترمنځ فونیمیکي توپیرونو په اړه تر اوسه پورې کومه څېړنه نه ده شوې.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د پشه‌يي ژبې د دوو لهجو(دره نور، ازوبين)ترمنځ فونيميکي توپيرونه رابرسيره شي.

## د څېړنې شاليد

د پشه يي ژبې لهجو په اړه آريانا دايرة المعارف دويم ټوک، دوست محمد دوست اثر(د افغانستان ژبې او توکمونه)، محمد زمان کلماني اثار( پشه‌يي يکی از اقوام و زبانهای افغانستان)،(پشه‌يي افغانان) او د څېړندوی فريدالله فرحان علمي-څېړنيزه مقاله(پشه‌يي ژبه او د هغې لهجې). په دې ذکر شويو اثار کې يوازې د پشه‌يی ژبې د لهجو او سيمو يادونه شوېده، خو د مشخصو لهجو ترمنځ فونيميکي توپيرونو په اړه کومه ليکنه نه ده شوې.

### پوښتنې

۱ـ پشه‌يي ژبه څو لهجې لري؟

۲ـ پشه‌يي ژبې د دوو لهجو(دره نور لهجه او اوزبين لهجه) ترمنځ فونيميکي توپيرونه کوم دي ؟

## د څېړنې کړنلاره

د دې څېړنې ډول کتابتوني دي او له تشريحي، تحليلي او ساحوي ميتودنو څخه پکې ګټه اخيستل شوی.

## د څېړنې موندنې

پشه‌يي ژبه په خپل جوړښتي نظام کې ډېرې لهجې لري خو دا ټولې لهجې بيا په لوی سر کې په پنځو ډلو ويشل شوي دي. د دې لپاره چې موضوع ښه روښانه شي، نو لازمه ده چې د پشه‌يي ژبې ټولې لهجې وپېژندل شي او وروسته د (د اوزبين(اليشنګ، دولت شاه) او دره نور (الينګار، کونړ) لهجو ترمنځ فونيميکي توپيرونو په اړه خبرې وشي.

## د پشه‌يي ژبې دوديزې لهجې

پشه‌يي ژبه څو له بېلا بېلو لهجو څخه جوړه شوې ده ، د دوی جغرافيوي ساحه د نورستان څخه د کاپيسا ګلبهار تر لويديځ پورې ښودل شوي او په دې لويه سيمه کې خلک په پشه‌يي ژبه خبرې کوي او مرکزونه يې کونړ، ننګرهار،لغمان، او کاپيسا دي. پشه‌يي ژبه خپل جغرافيوي موقيعت د تثبيت له مخې په پنيځو لهجو وېشل شوې ده چې لاندې ډول دي:

۱- د کوهستان او بولغين لهجه

۲- د اوزبین درې لهجه(الیشنګ او دولت شاه)

۳- د تګاب او نجراب لهجه

۴ـ دره نور، د لغمان الینګار او کونړ لهجه(آریانا دایرة المعارف دویم ټوک،۱۳۸۷ل.۴۴۸مخ)

۵- دېګانو یا چوګني لهجه

پورته څلور لهجې په اریانا دایرة المعارف کې او (الفبای زبان پشه‌یي) نومي اثر کې هم راغلي خو وروستۍ لهجه چې د لومړۍ لهجې سره راځي د« د افغانستان ژبې او توکمونه» کې د ېګانوی لهجې یاودنه کړې ده، چې دا خبره د افغانستان د علومو اکاډمي علمي غړی عبدالمالک لاموال په لیکنو کې او د «پشه‌يي افغانان» نومي اثر چې لیکوال یې محمد زمان کلمانی دی چې د پشه‌یي ژبې پنځمه لهجه د دېګانو او چوګني په نامه یاد کړې ده. د پورته پینځو لهجو ویونکو سیمې یې په لاندې ډول دي.

۱- **دره نور**( الینګار، کونړ درې) **لهجه:**

دا لهجه د لغمان الینګار، کونړ د لهجې په نامه هم یادیږي. د لغمان په مرکز، الینګار، قرغه‌يي او نور سیمو کې او همدارنګه د ننګرهار د ښېوې(کوزکونړ)، دره نور په ولسوالیو، د کونړ ولایت نورګل ولسوالۍ‌په سیمو کې او هم د نورستان د ملیل او مشپه خلک د پشه‌یي ژبې په همدې لهجه خبرې کوي.(فرحان،۱۴۰۳ل.۱۴۳مخ)

۲- **اوزبین لهجه**(د لغمان دولت شاه او الیشنګ)

دغه لهجه د لغمان په الیشنګ او دولت شاه، د نورستان په ننګرام او دوآب، د کابل د سروبي ولسوالي د اوزبین درې خلک پرې خبرې کوي. د پشه‌یي ژبې دغه لهجه  د الیشنګ او دولت شاه لهجې په نامه هم یادېږي.

۳- **تګاب او نجراب لهجه**

دا لهجه چې د کاپیسا ولایت د اله سای، تګاب او نجراب په ولسوالیو کې پشه‌یان پرې خبرې کوي. د تګاب او نجراب لهجه په نامه یادېږي.

۴- **کوهستان او بولغین(شمال لویدیځه)**

کو هستان او بولغین، د ګلبهار او شتل او یا  د شمال لویدیځې لهجې په نامه هم یادېږي. د کاپیسا کوهستان او بولغین ولسوالیو په غرنیو سیمو او هم د نجراب د یو شمېر سیمو اوسېدونکي، په همدغه لهجه خبرې کوي. که څه هم دغه لهجه د دري ژبې تر اغېز لاندې راغلې، خو بیا هم له دویمې لهجې(اوزبین لهجه) سره یو څه نږدې او ورته والی لري ( کلماني،۱۳۸۹ل، ۱۷۲مخ)

**۵- دیګانو یا چوګني لهجه:**

دغه لهجه د پينځمې لهجې په نامه، د دېګانو یا د چوګني لهجې په نامه هم یادیږي. د کونړ ولایت په اریت(آرېڵ)، شوماشت(شوماش)، وامه ګل، چلس ،کوړنګل، پیچ درې ... په ځېنو نورو درو او کلیو کې وربانديې خبرې کوي او هم د ننګرهار د دره نور ولسوالۍ د شېمل او د کنداک قریې خلک پرې خبرې کوي.

**د پشه‌يي ژبې اوزبین او دره نور لهجو ترمنځ فونیمیکي توپیرونه**

**الف: فونیم(ڵ=λ)**

دا غږ د پشه‌يي ژبې په سویل ختیځه لهجه کې ځانګړی غږ دی، د ادا کېدو په وخت کې ژبه مخ پورته اوښتی شکل غوره کوي او د پاسنۍ ژامې د وریو له بېخونو سره ژبه تماس پیدا کوي او هوا د ژبې له دواړو اړخونو څخه په ټاکلې اندازه د خولې له جوف څخه د سږو په فشار راوځي چې د دې غږ د ادا کېدو عملیه ترسره کېږي. د پشه‌يي ژبې اکثره ویونکي په اصلي بڼه تلفظ کوي، خو د اوزبین په لهجه کې (تر) او یا(ش) په بڼه تلفظ کېږي چې بېلګې یې په لاندې ډول دي:

| **فونیم(ڵ=λ)** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **دره نور په لهجه کې** | | **اوزبین په لهجه کې** | | **مانا** |
| **بېلګې** | **فونیمیک** | **بېلګې** | **فونیمیک** | |
| ڵون | λūn | شېنډ | šenḍ | بام |
| ڵنګالي | λngāli | شنګالي | šɪngāli | توتان |
| ڵمګر | λamgar | شمګر | šamgar | کاریګر/مزدور |
| ڵام | λām | شوم | šom | کار |
| پوڵ | poλ | پوتر | potar | زوی |
| لېنڵ | lenλ | لېتر | leta | لو |
| ڵې | λe | ترای | tarāy | درې |

**ب: واول (ا=ā)**

د دره نور په لهجه کې واول (ا=ā) غږ د اوزبین په لهجه کې د (ؤ=o) په غږ اوړي چې بېلګې یې په لاندې ډول دي:

| **واول (ا=ā)** | | |
|---|---|---|
| دره نور لهجه کې | اوزبین لهجه کې | **مانا** |

| بېلگه | فونیمیک | بېلگه | فونیمیک | |
|---|---|---|---|---|
| گوړا | goṛā | گوړو | goṛo | آس |
| گوراوال | gorawāl | گوروول | gorawol | واده |
| نونگا | nūngā | نونگو | nungo | نوی |
| ابارا | obarā | ابارو | obaro | لوړ |
| ڵام | λām | شوم | šom | کار |
| تکړا | takṛā | تکړو | takṛo | تکړه |
| کنشټا | kənɪšṭā | کنشټو | kənɪšṭo | کشر |
| پېدا | pedā | پېدو | pedo | پیدا |
| ناس | nās | نوس | nos | پزه |
| چار | čār | چور | čor | څلور |
| گنگنا | gəngnā | گنگنو | gəngno | تڼاکې |
| دار | dār | دور | dor | غر |
| گا | gā | گو | go | غوا |
| بوتا | botā | بوتو | boto | غرنۍبوټی |
| باس | bās | بوس | bos | بخار/تف |

**ج: واول(و/ū)**

دره نور په لهجه کې واول(وū) غږ د اوزبین په لهجه کې په واول(يi) غږ سره اوړي چې بېلگې یې په لاندې ډول دي:

| **واول(و/ū)** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **دره نور په لهجه کې** | | **اوزبین په لهجه کې** | | **مانا** |
| **بېلگې** | **فونیمیک** | **بېلگې** | **فونیمیک** | |
| اشټو | aštū | اشټي | ašti | اتلس |
| آرو | ārū | آري | āri | شفتالو |
| بالکول | balkūl | بالکیل | bagkil | ماشوم |
| یوټي | yūṭi | ژیټي | žiṭi | جغ |
| دوم | dūm | دیم | dim | دود/لوگی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ژو | ẑū | ژي | ẑi | سپږه |
| پشو | pəšū | پچي | pəči | پښتی |
| گوم | gūm | گیم | gim | غنم |

**د: کانسوننټ(ش=š)**

د دره نور لهجې په ځېنو کلیمو کې کانسوننټ(ش=š)غږ د لغمان د اوزبین(د لغمان دولت شاه او الیشنگ) په لهجه کې(چ=č) په بڼه تلفظ کېږي.

| کانسوننټ(ش=š) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دره نور په لهجه کې | | اوزبین په لهجه کې | | مانا |
| بېلگې | فونیمیک | بېلگې | فونیمیک | |
| شلداړ | šıldāṛ | چلداړ | čıldāṛ | سین ږیری |
| شلېک | šılek | چلوک | čıok | سپین |
| پشو | Pəšū | پچي | pəči | پښتی |
| تشان | Təšān | تاچون | tāčūn | نجار |
| شې | Še | چې | če | شپږ |
| شیر | Šir | چیر | čir | شېدې |
| رشي | Rəši | رچي | rəči | ساتل |

**هـ: واول(آ، āl ،al) او کانسوننټ(ک=k)**

د ننگرهار د دره نور په لهجه کې واول(آ، āl ،al) غږونه اوکانسوننټ(ک=k) غږ د اوزبین په لهجه کې په (هـ=h) غږ اوړي او تلفظ کېږي چې بېلگې یې په لاندې ډول دي:

| واول(آ، āl ،al) او کانسوننټ(ک=k) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دره نور په لهجه کې | | اوزبین په لهجه کې | | مانا |
| بېلگې | فونیمیک | بېلگې | فونیمیک | |
| آی | āy | هی | hay | یې |
| آیم | āym | هېم | hem | یم |
| آیک | āyk | هایک | hāyk | و |
| آین | āyn | هون | hūn | دي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اړ | aṛ | هړ | haṛ | زړه |
| انیک | anik | هنیک | hanik | وهل |
| اما | amā | هما | hamā | مونږ |
| کنیک | kənik | هنیک | hənik | ایستل/ دباندې |
| کړو | kaṛū | هړو | hṛū | شوړمبې |
| کاټ | kāṭ | هاټ | hāṭ | کټ |
| کاړ | kāṛ | هاړ | hāṛ | غوږ |
| کاو | kāw | هاو | hāw | څومره |

**و:نیمه واول(ی=y )**

د دره نور په لهجه کې هغه کلیمې چې په پیل کې نیمه واول(ي=y ) غږ راغلی وي، د پشه‌يي ژبې په اوزبین(الیشنګ او دولت شاه) لهجه کې د (ژ=ẑ) په غږ اوړي او تلفظ کېږي.

| سیمي واول(ي=y ) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **دره نور په لهجه کې** | | **اوزبین په لهجه کې** | | **مانا** |
| **بېلګې** | **فونیمیک** | **بېلګې** | **فونیمیک** | |
| ین | Yan | ژند | žan | ژرنده |
| ینداوو | Yəndāwu | ژنداوو | yəndāwu | ژرندګړی |
| یلا | Yəlā | ژلا | žəlā | خوشې،عبث |
| یتیم | Yətim | ژتیم | žətim | یتیم |
| یای | Yāy | ژای | žāy | یولس |
| یواټي | yəwāṭi | ژواټي | žəwāṭi | بدفعلي |
| یما | Yəmā | ژما | žəmā | باز |
| یاو | Yāw | ژاو | žāw | دومره |
| یا | Yā | ژا | žā | اوربشې |
| یاد | Yād | ژاد | žād | یاد |
| یار | Yār | ژار | žār | ملګری |
| یاري | Yāri | ژاري | žāri | ملګرتوب |
| یاندو | Yānū | ژاندو | žānū | دومره |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| يملا | Yamlā | ژملا | žamlā | قلبه |
| يوټي | yūṭi | ژيټي | žiṭi | جغ |
| يان | Yān | ژان | žān | بيا |

**ز: کانسوننټ (شš ) په (ښ/ṣ،ṡ )**

د ننګرهار د دره نور په ولسوالي کې په ځېنو کلمو کې د (شš) غږ د اوزبين(لغمان په دولت شاه او اليشنګ ) په لهجه کې د پښتو ژبې کندهارۍ لهجې (ښ=ṡ) په شان سخته ويل کېږي او د پشه‌يي ژبې د کاپيسا اله ساى په لهجه کې دپښتو ژبې مرکزي لهجې(ښṣ) په څېر تلفظ کېږي. ددې لپاره چې د دواړو غږونو ترمنځ تفکيک وکړو نو د اوزبين لهجې ته (پښتو کندهارۍ لهجې په څېر ده) (ښ=ṡ ) او د کاپيسا لهجې(دپښتو ژبې مرکزي لهجې څېر ده) ته د (ښ=ṣ) ګرافيم فونيميک بڼې توپير سره ښودنه کوو چې بېلګې په لاندې ډول دي.

| **کانسوننټ (شš ) په (ښ/ṣ،ṡ )** | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **دره نور په لهجه کې** | | **اوزبين په لهجه کې** | | **کاپيسا اله ساى په لهجه کې** | | **مانا** |
| **بېلګې** | **فونيميک** | **بېلګې** | **فونيميک** | **بېلګې** | **فونيميک** | |
| اشټ | Ašt | اښټ | aṡt | اښټ | aṣt | اته |
| اشټو | aṣtū | اښټي | aṡti | اښټي | aṣt | اتلس |
| شېو | šEw | ښباو | ṡeāw | ښباو | ṣeāw | د غنمو وږی |
| پوش | puš | پوښ | puṡ | پوښ | puṣ | نباتي سره/پارو |
| موشټي | mušti | موښټي | muṡti | موښټي | muṣti | سوک/مشت |
| اشپاړ | ašpāṛ | اښپاړ | aṡpāṛ | اښپوړ | aṣpoṛ | وريجې/برنج |
| ګشني | kəšni | کښني | kəṡni | کښني | kəṣni | قلبه کول |

**پايله**

د پايلې په تو ګه ويلاى شو چې پشه‌يي ژبې ويونکي د هېواد په ختيځو برخو د هندوکش د غرونو په لمنو، د کابل په ختيځ، کاپيسا، لغمان،ننګرهار،کونړ،نورستان او په ځينو نورو کليو او ښارونو کې ژوند او د پشه‌يي ژبې په مختلفو لهجو خبرې کوي. د دغو لهجو له ډلې څخه دوې لهجې (دره نور، اوزبين) ترمنځ د فونيميکي بدلون

څېړنې او سپړنې څخه دا راته روښانه شوه چې دغه دوې لهجې په خپل منځ کې یو شمېر فونیمیکي توپیرونه لري، لکه (ڵ=λ) غږ په (شš)،واول (اā=) په واول (ۆO=) ، واول(وū) په واول(يi)، سیمي واول(ی=y) په(ژž=) او داسې نور... له دې لهجوي توپیرونو څخه دا راته څرګنده شوه چې همدا د فونیمونو(غږونو) اوښتل را اوښتل د لهجو ترمنځ یوه لهجوي ځانګړنه ده. په دې څېړنه کې دغه ځانګړنه په ښه ډول روښانه شوې ده چې لوستونکي په اسانۍ سره کولای شي چې د پشه‌یي ژبې په دغو دوو(دره نور،اوزبین) تفکیک وکړي.

**مناقشه**

د پشه یي ژبې لهجو په اړه آریانا دایرة المعارف دویم ټوک، دوست محمد دوست اثر(د افغانستان ژبې او توکمونه)، محمد زمان کلماني اثار( پشه‌یي یکی از اقوام و زبانهای افغانستان)،(پشه‌یي افغانان) او د څېړندوی فریدالله فرحان علمي مقاله(پشه‌یي ژبه او د هغې لهجې)لیکل شوو آثارو کې یوازې د پشه‌یی ژبې د لهجو او سیمو یادونه شوې ده، خو په دې څېړنه کې د مشخصو لهجو(دره نور، اوزبین) ترمنځ فونیمیکي توپیرونه په علمي ډول ښودل شوي دي.

**وړاندیز**

۱-ژبې په فردي هڅو نه بډایه کېږي، نو د پوهنتونونو په چوکاټ کې د ژبو او ادبیاتو مرکزونو څخه مو غوښتنه ده چې خپلو محصلینو ته د پشه‌یي ژبې فولکلور او نور مهمو ژبنیو مسأیلو په اړه څېړنیزې موضوعګانې ورکړی شي چې د پشه‌یي ژبې فولکلور خوندي او د نورو برخو تحقیقي اثار رامنځته شي.

**ماخځونه**


۱-آریانا دارةالمعارف،دویم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمی؛ د دارةالمعارف مرکز ریاست، چاپ کال/۱۳۸۷هـ ش، نبراسکا مطبعه، کابل

۲- پشه یي شورا له خوا .اَړیېس اَوَزي. خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه (interlit foundation)، چاپ کال۲۰۱٦م

۳-پشه یي شورا له خوا. دار شي داری شېرا پن شي(متل). خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه ( interlit foundation)،چاپ کال۲۰۱۰م، پېښور

۴-جوهونګ یون، پشیس الېپبا کیتبې،خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه، دره نور(DIN)پروژه، چاپ کال /(۲۰۰۵م).جلال اباد

۵-د پشه‌يي کميسون له خوا، (۲۰۱۰م). (پشه‌يي جبيدې ساده ديکشنري)، خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه، دره نور(DIN)پروژه ،چاپ کال۲۰۱۰م،جلال اباد

٦-فرحان، فريدالله.پشه‌يي ژبه او د هغې لهجې(علمي مقاله)، ۱۴۰۳ ل.لغمان پوهنتون، لوړو زده کړو وزارت د نشراتو مطبعه

۷-رشيدي، عبدالباسط. فايز، عزيز الله. احساس، فيصل. کهول بييک خزانو کلي( د ورکې خزانې کيلي)، خپرندوی اداره؛ ثمر د ژبپوهنې نړيواله موسسه. چاپ کال؛ ۱۳۹۹هـ ش،کابل

۷-غمجن، نورمحمد.پشه‌يي ـ پښتو قاموس. خپرندويه مؤسسه، د بيهقي کتاب خپرولو رياست. چاپ کال/۱۳۹۹ هـ ش.آزادي(دولتي) مطبعه، کابل

۹-کلماني،محمدزمان. پشه‌يي افغانان. د بيهقي کتاب خپرولو موسسه.ازادي(دولتي) مطبعه. ۱۳۸۹هـ ش

۱۰-دوست،دوست محمد.د افغانستان ژبې او توکمونه.چاپ کال:۱۳۵۴ ل.پښتو ټولنه، دولتي مطبعه